SHARIAT WEEKLY
شریعت
اوونیزه
په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان
دریم کال اوه څلویښتمه ګڼه پرله پسې (۱٤۷) یکشنبه د۱٤۱۹هق کال د ربیع الاول (۲۵) د۱۳۷۷ هـ ش کال دچنګاښ دمیاشتې (۲۸) د۱۹۹۸میلادي کال دجولاې (۱۹)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډېر نږدې دی تقوا (پرهیزګاری) ته .
(سورة المائدة)

د عالیقدر امیر المؤمنین د ځانګړي هدایت له مخې :

په اسلامي امارت کې د بي بي سي راډیو د بې بنسټه پروپاګند او تورونو د رد په خاطر د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې مطبوعاتي کنفرانس جوړ شو

د روان کال د ربیع الاول په ۲۱ مه چې د جولاي له ۱٦ مه سره سمون خوري د بي بي سي راډیو (کونټوب پیغور ته دی) په پروګرام کې یوې افغاني مهاجرې کونډې سره په پېښور کې د طالبانو د سلوک په باره کې مرکه کړې وه نشره کړه چې نوموړې کونډې د خپلې مرکې په ترځ کې ډېر ناروا تورونه په طالبانو ولګول دې له پاره چې د بي بي سي ناروا تبلیغاتو په باب لوستونکو ته معلومات ورکړل شي د ربیع الاول په ۲۲ چې د جولاي د ۱۷ نیټې سره سمون خوري د پنجشنبې په ورځ وروسته له غرمې یو مطبوعاتي کنفرانس جوړ شو او په دغه مطبوعاتي کنفرانس کې د افغانستان د اسلامي امارت د اطلاعاتو او کلتور د وزارت نشراتي معین محترم مولوي رحیم الله زرمتي د خبریالانو په وړاندې د بي بي سي په ناروا تبلیغاتو رڼا واچوله او هم یې د موضوع د لا روښانتیا له پاره د خبریالانو پوښتنو ته د قناعت وړ ځوابونه وویل .

محترم مولوي رحیم الله زرمتي په خپلو څرګندونو کې دا په ډاګه کړه چې د طالبانو د سلوک په برخه کې د بي بي سي راډیو څرګندونې بېخي بې بنسټه دي دا ځکه چې طالبان په خپله دوغسې ناروا ولې منځته ورلو له پاره
څلورم مخ

د افغانستان د اسلامي امارت مخالفین څو پاتي ورځې هم غنیمت ګڼي

د افغانستان د اسلامي امارت مخالفین د اسلامي اردو د مجاهدینو له خوا د فاریاب ولایت په فتحه کولو سره سخت په ویره کې دي او څو پاتي ورځې غنیمت ګڼي او کوښښ کوي چې له اوسني حالت څخه ګټه واخلي او په دغه ډول د خپل ځان لپاره ... خلکو له مالونو څخه د چور او غلا له لارې ... پاتي کېږي ... د اسلامي امارت ... د لوی خدای ... نصرت ورېږي نو په چور او تالان یې لاس پورې کړي دي چې د ربیع الاول په ۲۱ مه چې د جولاي له ۱٦ مې سره سمون خوري د کابل - مزار د لارې په اوږدو کې د سمنګان د ولایت په برخه کې د خلکو ... مسافرینو ...
څلورم مخ

په شمال کې نه دولت شته ، نه متحده جبهه او نه یې موږ غریتوب لرو

د نجیب د حکومت تر پایه له (۱٦۰) ملیاردو افغانیو څخه زیاتې چاپ نشوې خو د رباني لخوا تر اوسه (٦۵۰۰) ملیارده افغانۍ چاپ شوې دي

حکمتیار

د SNA د خبر په حواله راغلي دي چې انجنیر حکمتیار د بلخ پوهنتون محصلینو ته په خطاب کې وویل : زه اعتراف کوم چې د کمونیستانو له ماتې وروسته موږ د حالاتو ... مقابله ونشوه کولای او د بهرنیو او کورنیو دښمنانو په ...
څلورم مخ

په الهي نصرت :

د تخار او بغلان په ولایتونو کې د ملیشو ستر تعرضي عملیات له ماتې سره مخامخ شول

مخالفینو له لسو ورځو را په دېخوا ددې برید لپاره تیاري نیولې و

د باختر اطلاعاتي اژانس خبر راکړي چې په الهي نصرت سره د تخار او بغلان ولایتونو پر لسېیو کړنیو د مخالفو ملیشو برید له غورځې ماتې سره مخامخ او ملیشې په شاو تمبیدې. دا عملیات چې د جمعې په ورځ سهار وختي د بغلان ولایت د بورکي د ولسوالۍ او د تخار ولایت د اشکمش ، بنګي او ... په استقامت د ملیشو لخوا پیل شوي وه د اسلامي امارت د زړورو او پر خدای مینو مجاهدینو د سرښندنې په نتیجه کې په لسېیو شیبو کې له ماتې سره مخامخ شو . پدې تعرضي عملیاتو کې ملیشو ته د سر زیات تاوانونه اوښتي او ډېر مسري یې د جګړې په ډګر کې پاتې شوي دي . همدارنګه ددې خبر په تائید د اسلامي امارت د اطلاعاتو او کلتور وزارت سرپرست محترم ملا امیر خان متقي هم له امریکا غږ او بي بي سي راډیو سره د یوې مصاحبې په ترځ کې ووېل : چې مخالفینو له لسو ورځو را پدېخوا تیاري نیولې تر څو د تخار او بغلان په ولایتونو کې د اسلامي اردو په لسېیو کرښو برید وکړي. هغوي په خپل ټول توان سره زموږ د مجاهدینو پر ... خو تر څنګ پر له پسې تعرضونو وکړل خو الحمد لله چې زموږ مجاهدینو بدهر کل هغوی په لحاظ ماتونکې ځوابونه ورکړل او په دې ډول د ملیشو د کښوړ لوی پروګرام چې زموږ پر ضد جوړ شوی وه په الهي نصرت سره په غورځې ماتې سره مخامخ شو .

په فرانسه کې د رباني د تش په نامه دولت سفارت وتړل شو

احمد شاه مسعود د رباني د پلوي سفیر داود میر د لیرې کولو حکم ورکړی

دا په څنګه اداره وې چې د خارجه وزارت پر ځای د دفاع وزیر یې د سفیرانو د لیرې کولو صلاحیت لري ؟

له فرانسې څخه د تازه را رسېدلو خبرونو په حواله روښانه شویده چې په هغه هېواد کې د رباني د تش په نامه دولت سفارت تړل شوی دی د سفارت د تړلو دلیل هغه جګړه وه چې په پاریس کې د رباني د سفیر داود میر او احمد ولي مسعود تر منځ د زمردو د تجارت پر سر شوې وه . دا جګړه وروسته له هغه وشوه کله چې په تېرو وروستیو ورځو کې احمد ولي مسعود او داود میر پنجشیر ته تللي او له هغه ځایه یې ... زمرد له ځانه سره فرانسې ته وړي وو په فرانسه کې د زمردو د بیې د ... کبله داود میر او د هغه ورور پرته له دې چې احمد ولي مسعود خبر ورکړي نوموړي زمرد کاناډانه قاچاق او هلته یې په خپله خوښه پلورلي و کله چې له دې پېښې څخه احمد ولي مسعود او ډاکټر عبدالله خبر ...
څلورم مخ

د فوائد عامې سرپرست وزیر محترم ملا الله داد «شهید ورور» له شریعت اوونیزې سره په مرکه کې :

په کابل ، وردګ ، میدان ، غزني ، پکتیا ، خوست ، ننګرهار او کندهار کې د آبادي کارونه پیل شویدي

د آبادي کارونه د اسلامي امارت په بودجه تر سره کیږي

څنو موسسو هم د اوبو رسولو د پروژو په بیا احیا کې مرستي کړیدي

محترمو لوستونکوا

زموږ خبریال د فوائد عامې د وزارت له محترم سرپرست ته د مرکې لپاره ځني پوښتنې ورکړې وې چې هغوی یې د ځواب په ترځ کې د خپلو کارونو لنډ راپور موږ ته راولېږلی دی چې موږ یې هم دلته په دې ډول خپروو .

اداره

د شریعت اوونیزې درنې ادارې ته السلام علیکم و رحمت الله و برکاته

زما تمنا او هیله دا ده چې ... د شریعت اوونیزې او وروسته هم ټولو هېوادوالو ته د اسلام د مقدس او مبین دین په رڼا کې د محمدي غرا شریعت په لا پښتګښت اوهم د عالیقدر امیر المؤمنین تر قیادت لاندې د
څلورم مخ

به خاطر اتحاف دعا به روان پاك شاعر جوان كشور مرحوم ساهو :

ختم قرآن عظیم الشان بر گذار گردید

به خاطر اتحاف ادعیه به روان پاك شاعر جوان و مجاهد کشور مرحوم امان الله ساهو محفل ختم قران عظیم الشان از طرف مسوولین هفته نامه شریعت ارګان نشراتي مرکزي امارت اسلامي و اداره شعر و ادب ، در مقر هفته نامه شریعت تدویر یافت .

در این محفل بر علاوه محترم الحاج مولوي عبدالرحمن احمد «هوتك» معین فرهنګي وزارت اطلاعات وفرهنګ و مدیر مسؤول هفته نامه شریعت عده کثیري از مسوولین وزارت اطلاعات و فرهنګ ، شعرا و ادباي کشور اشتراك ورزیده بود .

بعد از ختم قرآن عظیم الشان محترم داکتر محمد نذیر «احمدزي» در مورد کارنامه هاي جهادي، ادبي و علمي مرحوم ساهو مفصلاً صحبت نمود . و متعاقباً محترم احمد ضیا «شریفي» یك تن از فرهنګیان کشور پیرامون نقش ساهو در ادبیات جهادي ، نوشته اش را قرآئت و مختصر سوانح مرحوم را به خوانش ګرفت .

در این محفل عده از شعرا اشعار شانرا که پیرامون حادثه المناك وفات مرحوم ساهو سروده بودند به خوانش ګرفتند .

محفل با دعائیه پایان پذیرفت .

د هېواد تکړه او ځوان شاعر «ساهو» په حق ورسید

په ډېرې خواشینۍ سره مو خبر تر لاسه کړ چې د هېواد یو لږ مجاهد شاعر او لیکوال محترم امان الله «ساهو» د محترم محمد صدیق پسرلي زوی د وریښي ناروغۍ له امله په حق ورسید. اروابناد امان الله ساهو په ۱۳۲٦ هـ لمریز کال د کنړ په ولایت کې زېږېدلی دی د کابل پوهنتون د ساینس له پوهنځي نه یې لسانس تر لاسه کړ او په کال ۱۳۵۹ هـ لمریز د کمونیستانو له شربېدلي کودتاه سره سم پاکستان ته مهاجر شو په پاکستان کې د جهادي ادب د کاروان تکړه او د لومړي لیکې لاروي وو او ډېر چاپ او ناچاپ اثارونه لري.

د شریعت اوونیزې اداره په داسي حال کې چې د اروابناد مړینه یو ستر علمي او فرهنګي ضایعه او مرحوم له کورنۍ سره په تعزیت کې ځان شریك بولي، دده ته د لوی خدای نه د فردوس جنت او پاتي کسانو ته یې د جمیل صبر دعا غواړي.

کندهار د مخابراتو رئیس محترم ملا رحمت الله اخند له شریعت اوونیزې سره په مرکه کې :

له لسو لینو پرته د کندهار د مخابراتو ټوله دستګاه خرابه وه چې د امارت د مسوولینو په توجه بیرته جوړه او فعاله شوه

په کندهار کې ټول ۵۰۰ لینه اتومات او نیمه اتومات تیلفونونه ویشل شویدي

عواید موږ د بخوا په پرتله سل په سلو کې ډېر شویدي

محترمو لوستونکو ! د شریعت اوونیزې خبریال په کندهار کې ددې ولایت د مخابراتو له رئیس سره لنډه مرکه کړېده چې لوستلو ته یې ستاسو پام را اړوو.

پوښتنه : لطفاً د شریعت اوونیزې قدرمنو لوستونکو ته ځان معرفي کړئ .

ځواب : زما نوم الحاج ملا رحمت الله اخند د ملا باز محمد زوی د ارزګان ولایت د چورلي د ولسوالۍ د نوري کلي اوسېدونکی یم له نن نه پوره ٤۲ کاله مخوا زېږېدلی یم سبق ... دینی مدارسو کې ... او د جهاد په وخت کې د حرکت انقلابي اسلامي مربوط د محمدیه جبهې ... پیښته اند د کندهار په ښار کې د مخابراتو د تاریخچې په اړه معلومات راکړئ.
څلورم مخ

کمپاین سراسري تأمین ضیاع مایعات تعلیمات صحي و حفظ الصحه محیطي خاتمه یافت

کمپاین سراسري تأمین ضیاع مایعات وجود از طریق دهن تعلیمات صحي حفظ الصحه محیطي و آب صحي براي اطفال که پنج روز قبل از طرف وزارت صحت عامه آغاز گردیده بود خاتمه یافت .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داده در کمپاین متذکره هزاران طفل تداوي گردیده و مادران از آګاهي لازم و ضروري را در مورد تعلیمات صحي ، و حفظ الصحه محیطي و تهیه آب صحي حاصل نموده اند.
ص ٤

مهاجرین افغاني مقیم عربستان سعودي با مساجد شهر کابل کمك مینمایند

مهاجرین افغاني مقیم عربستان سعودي با مساجد شهر کابل کمك مینمایند

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : در ملاقاتیکه محترم الحاج حافظ محب الله سرپرست وزارت حج و اوقاف با هیئت مهاجرین افغاني مقیم عربستان سعودي انجام داد هیأت متذکره در رابطه به چګونګي کمك هاي مهاجرین افغاني مقیم عربستان سعودي با مساجد شهر کابل توضیحات داده در زمینه وعده هرګونه همکاري را سپردند.
ص ٤

یك تعداد سلاح از مربوطات ولایت کابل بدست آمد

یك تعداد سلاح مختلف النوع اخیراً در مربوطات ولایت کابل کشف و بدست آمد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد به اثر سعي و تلاش موظفین ریاست اوپراتیفي ریاست عمومي استخبارات یك تعداد سلاح که شامل یك ضرب توپ ۸۲ ملي متري ، یك ضرب بي ام یك و یك میل راکت میباشد از مربوطات ولایت کابل کشف و بدست آمده است .

سرمقاله

دلوی خدای اجا په نامه

د هېواد د رسمي قوانینو شرعي څېړنه بشپړه شوه

د جناب عالیقدر امیر المؤمنین (سلمه الله تعالی و و فقه) د فرمان له مخې د هېواد مشهور علماي کرام شکر الله تعالی سعیهم د هېواد له داخل او د هجرت له کمپونو څخه د هېواد پلازمېنې کابل ته راغونډل شوي او وظیفه ورکړې شوې وه چې د هېواد اساسي او فرعي (نافذ قوانین له نظره تیر کړي تر څو هغه مادې سمې کړي چې له اسلامي مقدس شریعت سره ټکر او مخالفت لري ، په دغه هکله د غیر علماوو له پلوه ځني نیوکې په سینه ابزو ورځپانو کې خپرې شوې چې ګواکې د قوانینو کارته قانون پوهان ، حقوق پوهان او سیاستمداران په کار دي او دا ضروري ده چې په هېواد کې قانوني حکومت وي او لویه جرګه راوبلله شي او ... ځني نور یې د اسلامي امارت په هکله منفي تبلیغات او په شرعي حدودو نیوکې هم لیکي او په دغسې تجارتي ورځپانو کې یې خپروي ؛

موږ وایو په هېواد کې الحمد لله شرعي امارت قایم شوي دي ، شرعي نظام او حدود نافذ دي ، هېواد وال په نیبرازۍ کې ژوند کوي او ډېرې داسې غوښتنې او مقصدونه یې ترسره شوي دي چې په شل ګونو کلونه یې په ارمان کې وو او هېواد مخ په ودانۍ روان دي ، کـه څوك لا یل قانوني حکومت غواړي نو هغوي به د تیرو رژیمونو شوق او مینه لري مګر هېواد والو هغسي بې ایمانه او بې دینه رژیمونه د تل لپاره ګورته سپارلي دي!

اوس کـه مخالفین یا هغـه څوك چې هېواد او هېوادوالو ته یې د یوه خلي خیرنه دي رسیدلي بلکې لا د ځینو بې شمېره ضررونه ورته
دوهم مخ

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندي
مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دبوي گڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کي (۳) کلداری
پوست بکس : (٤٧١) تیلفون: ۲۰۰۷۵
په پیښور کي : دطالبانو نمایندگي تیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۲۷
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتی مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

رسیدلي دي بو ځاي بل ځاي د اسلامي امارت په خلاف غونډي او هر ځومره بد تبلیغات کوي دلته په سترګو لیدلي واقعیتونه د دوي د بي ګټي غونډو او کاواکه اوږدو لیکنو او خپرونو تکذیب کوي او داسي وختونه ډیر ژر راتلونکي دي چي دوي به په خپلو کړو وړو او ویناګانو پښیمانه وي ان شاء الله تعالي :

پاته شوه دا خبره چي د قوانینو لپاره دا په کار دي او هغه په کار دي . دلته د نویو قوانینو د تدوین او تنفیذ خبري نه دي رامنځ ته شوي بلکي په هیواد کي له ډیرو لسیزو راهیسي اساسي او فرعي قوانین، لوائح او مقررات نافذ دي چي هغه د قانون پوهانو، حقوق پوهانو، لیکوالانو او سیاست پوهانو له خوا تسوید او تدوین شوي دي، لویي جرګي ورته راغونډتلي شوي ، بحثونه ورباندي شوي او منظور شوي دي، د هغه وخت قانوني مشرانو توشیح او هغه ټول شروط او سنن چي د قوانینو لپاره ضروري ګڼل کیږي په دغه هکله په ځاي شوي دي، خو له بده مرغه یوه بنسټیز تشي (خلیګاه) چي پکښي لیدله کیدله هغه دا وه چي له اسلامي شریعت سره پوره تطبیق نه و ورکړ شوي . با له دي امله چي په هغه وخت کي دلته د غربي حقوقو تدریس کیده او هغه حقوق پوهان په اسلامي شریعت خبر نه وو او که څیني خبر هم وو د وخت د مسلطو رژیمونو او بهرنیو مداخلو په فشار دغه کار نه و تر سره شوي، مثلاً : د ۱۳٤۳ ش په اساسي قانون کي ماده راغلي وه چي شاه غیر مسؤل دي او په حدیث مبارك کي راغلي دي چي الا کلکم راع و کلکم مسؤل عن رعیته ...! - ببین تفاوت راه از کجا است تا به کجا ؟ -!

دا ضروري خبره ده چي په یوه اسلامي هیواد کي ټول قوانین له اسلامي شریعت سره سم وي مګر په اسلامي هیوادونو کي دغه وبا او مصیبت عام دي چي ډیر قوانین یي د غربي قوانینو او حقوقو تراغیزي لاندي راغلي دي.

د افغانستان اسلامي امارت چي د هیواد دیندار او مجاهد ولس له غوښتنو او د ملیونو شهیدانو کرامو (رحمهم الله تعالي) او معلولو مجاهدینو له ارمان سره سم یي په هیواد کي اسلامي شریعت نافذ کړي دي دا خبره فرض ګڼله چي د هیواد په رسمي او نافذو قوانینو د شریعت پوهانو او شرعي متخصصینو غوراو څیړنه وشي او شرعي خلایې ډکه شي :

ددغو قوانینو نوري هغه مرحلي طي شوي دي چي اوس رواج دي او یا بي اړه ورته لرله نو ځکه د قانون پوهـــــانو او لـــــویي جرګي مراحلو ته بیا اړتیا ونه لیدله شوه :

اوس ددغه کار په پوره کیدو سره ټول هیوادوال له شرعي پلوه په خپلو قوانینو واړه شول، الله تعالي دي جناب عالیقدر امیر المومنین ته د عمر او پدوالي او لا زیات توفیق ورکړي چي ټولي هڅي یي د پاك شریعت د تطبیق په هکله وي او هم دي الله تعالي د هیواد علماوو کرامو ته اجرونه ورکړي چي په دغه هکله یي ډیري شپي او ورځي ذهني ستوماني وګاللي او خپل شرعي مسؤلیت یي تر سره کړ. آمین .

هر سهار سترګي د ګل په اوښکو ډکي
پدي باغ کي بي ژړلو بل خه نشته

د ځوان ، خوږ ژبي او خوږمن شاعر او لیکوال امان الله «ساهو» د ځوانیمرګي دردوونکي خبر له امریکي نه د حیسو په وزرونو را غبرګ شو، کابل ته راورسید او د دوستانو او ادب د مینه والو درندیدلي زړونه یي نور هم ودردول.

د خداي بخښلي ساهو د مړیني د خبر هر ټکي یوه څړیکه وه چي له ګوګل نه پورته کیــــدله، یو درد ؤ چي د زړه له زخمونو اوچتیده او یوه تیره چاړه وه چي پر څیګر ونوسخیدله . زه تشم کولاي هغه شیبي په حافظه کي بیا را وګرځوم چي ددغه خبر په اوریدو ورسره مخامخ شوم. رادیو مي ګل کړه او د وخت د تیرو یادونو او خاطرو په بهیر ورګډ شوم .

د سپیدي مجلي د لومړني دوري د خپراوي خبري نوي راپورته شوي وي موږ د تنظیمي مطبوعاتو د یکنواخته، تکراري او کلیشه یي خپرونو یي خوندي نه ځوروللي وو .

محترم حبیب الله رفیع زموږ لپاره هر څه ؤ استاد، لارښود، مأخذ او مرجع خو له رفیع صاحب سره لیده کاته دومره اسانه نه ؤ، که مبالغه ونشي د سر بیه یي غوښته او موږ د سر دغه قیمت ته حاضر وو .

په هغو سختو او مرګونو حالاتو کي د پسرلي صاحب کور زموږ دوهمه پانګاه او دمه ځاي شو په جمعه کي به یو ځل هلته راغونډیدو او په خلاص مټ او د زړه له تل په مو په بیلا بیلو موضوعاتو خبري کولي ساهو صاحب مي لومړي ځل په همدغـــي یوه مجلس کي د دوي په کور کي ولید لکه له ډیره وخته چي سره پیژنو ټول تکلفات مو له منځه ووتل او د فکر، ذوق او ادب اشنایي مو ټینګه شوه .

د سپیدي لومړي ګڼه خپره شوه، زموږ د اشنایي او اړیکو ډیوه بله شوه او د ټولو مخـــه یي رڼا کړه په هـــدي وخت کي د مهاجرو لیکوالو او شاعرانو جرګه جوړه شـــوه او د پیښـــور په اردو بورد کي یي د مشاعرو لړي پیل کړه او موږ یو له بل سره نور هم وپیژنل شو او خپل شوو.

موږ د پسرلي صاحب په کور کي ادبي بنډارونه جوړول او په اردو و بورډ کي به مو مــــشـــاعـــري کـــولي چي پدي ټولو کي د ځوانیمرګ ساهو ونډه له ټولو درنه وه .

سپیدي د یوه ادبي غورځنګ هنګامه توده کړه، مقاومت د مطبوعاتو په منځ کي یي د نوښت لومړني خښته کیښوده او د مقاومت شعر او نثر ته ني د هنر او ادب خــــواږه ورکـــړل او د ځـــوانو لیکوالو او شـــاعــــرانو په وړاندي یي نوي لاري پرانیستلي، ساهو صاحب په دغو ټولو هڅو او نوښتونو کي لوي لاس درلود .

خداي بخښلي ساهو خوږ ژبي شاعر او نوښـــتګر لیکوال ؤ چي په نظم او نثـــر دواړو کي یي پوخ قلم چلاوه ، ده خــــوږي افساني لیکلي، په زړه پوري سفر نامه یي کښلي آزاد شعرونه او خواږه غزلونه یي ویلي دي.

ماته په خپله ووړکي او تیاره کوټه کي د خداي بخښلي ساهو د هنري او ادبي ژوند ټولي خـــوا وي وځلیــــدي. ده د لیکنو او شعرونو توري او کرښي مي د خیال پر تخته یو په بل پسي پانه پانه واونښتلي ، ده خبري، ظرافتونه او محلسونه مي د زړه په غوږونو واوریدل او نژدي د دوولســــیزو ادبي انډیوالي ورځي، میـــاشـــتي او کلونه مي مخي ته ودریدل.

موږ د عمر په یوه تنګ کي د هجرت او جهاد په کړاو جن او ازغن دوران کي خپل ادبي سفـــر پیل کـــړ نژدي دوي لسیزي مو ددغه سفر ډیر پړاوونه په ګډه ووهل، ډیري لاري مـــو لنډي کـــړي او دا دي تن دي په ابدي سفر روان شو او زموږ له کاروان نه بیل شو.

ما د پســـرلي صـــاحب، اسد، ایمل، اجمل ، عصمت الله او نورو ادبي دوستانو غمجني سترګي ولیدي چي په دغه ویر او ماتم او ښلني وي، زما په ســــترګو کي د اوښکو ونو څاڅکي هغوي ته مخامخ شول، داسي به ډیرو ســـترګو په لیرو لیرو ځایونو کي له دغه خبر سره یو ځاي نودي اوښکي څڅولي وي، ساهو د جهاد په ادبي بهیر کي ځانګړي ځاي لري ده د خپل ولس د هیلو او ارمـــانونو ډیره ژوندي ترجماني کړي له همدي ځایه ده چي ده د ځوانیمرګي ویر یولي او سرحدونه نه پیژني او د نړي په هر ګـــوټ کي پري د هر چا ســـترګو اوښکي توبي کړي، ټول زړونه پري ودردیدل او ټولو قلمونو یي د ویر او ماتم کرښي و کښلي .

خداي بخښلي ساهو- د ټولو خپل وه، زموږ ټولو ورور ؤ، زموږ ټولو ملګري وو، موږ ټول د یوي کـــورنـی غـــړي یو او یوه کورني بلل کـیږو، دغه غم زموږ ټولو غم دي، دا ویر زمــــــوږ ټولو ویر دي. تن په کندهاله او زخـــمي زخـــمي کـــابل کي د ځـــوانیـــمـــرګ ساهو د ویر او مـــاتم ټغـــر غوړیدلي، په پښتونخوا او د نړي په ګوټ ګوټ کي؛ هیڅوك دا غم پردي نه بولي. دا غم زموږ ټولو دي ، د ټول وطن دي، د ټول ملت او ګـــردو پښتـــنو دي، دغـــونډو او ادیبانو او ادب دوستانو دي الله تعالي دي موږ ټول له دغـــي غـــمـــونو وساتي اوځوانیـــمرګ ساهو ته دي فردوس جنت ور په برخه کړي . آمین.

شهرت ننګیال

کورنی فقه

پرله پسې ٤٢

د سرو او سپینو زرو، وریښمو او جواهراتو د استعمال حکم

د سرو او سپینو زرو او جواهراتو د لوښو او د وریښمو د بستري استعمال

قاضي محمد حسن "حقیار"

نارینه و ته د زینت لپاره د سرو زرو او وریښمو استعمال

ځرنګه چي اسلام په مطلق ډول د هر چا (نارینه او ښځینه) لپاره د سرو او سپینو زرو د ظروفو او د وریښــــمو او دیـــباجو د بستري استعمال حرام ګرځیدلي هغه ډول یي د نارینه و لپـــاره د زینت او ښکلا په ســـبب د دوي استعمال او اغوستل هم منع ګرځیدلي.

په تیرو بحثونو کي مو ووېل چي د سرو او سپینو زرو د لوښو او د وریښمو د بستري د استعمال د حرمت یو لامل د تکبر او اسراف مخنیوي هم دي نو ځرنګه چي د سرو زرو نه د لوښو جوړول او د وریښمو څخه د بستري جوړول اسراف او تکبر ســـرول کــــیږي هغه ډول د نارینه و لپـــاره له دي شیانو څخه د ښکلا او زینت په نیت استفاده کول هم د اسراف او تکبر لامل ګرځي. دوهمه خبره دا ده چي د زینت ... لامل د ښکلا هیله ډیره له سختو څخه کیږي او نارینه په دي مکلف نه دي چي دي دي هم د خپلي ښکلا او زینت لپاره له هر ډول رنګینیو او سرو او سپینو څخه کار واخلي بله خبره دا ده چي د ښځو لپاره د شارع له پلوه د ښکلا او زینت په قصد د دي شیانو د استعمال جواز د ښځو لپاره یو ځانګړي امتیاز دي چي په دي امتیاز کي ورسره بل جانب ځان شریکول روا نه دي . په دي خبره ډیر دلایل موجود دي چي د نارینه و لپاره د سرو زرو او وریښمو استعمال حرام او ښکلونه روا دي.

حضرت عمر ابن خطاب «رض» روایت کوي چي رسول الله «ص» فرمایي : « انما لبس الحریر في الدنیا من .... » یعني : « په حقیقت سره الغوندي وریښم به دنیا کي هر هغه څوك چي په اخرت کي هیڅ برخه ونلري » بخاري کتاب اللباس.

همدا راز له هبده «رض» نه روایت دي چي رسول الله «ص» فرمایي من لبس الحریر في الدنیا ... » یعني : « څوك چي په دنیا کي وریښم اغوندي نو په اخرت کي به یي وانه غوندي » بخاري کتاب اللباس

حضرت حذیفه «رض» روایت کوي چي رسول الله «ص» موږ منع کړلو له دي څخه چي د سرو او سپینو زرو په لوښو کي څښاك او خوراك وکړو او (منع یي کړلو) له اغوستلو د وریښمو او دیباجونه او (منع یي کړلو) له دي څخه چي په وریښمو او دیباجو کښینو.

حضرت علي کرم الله وجهه روایت کوي چي « کساني النبي «ص» حلة سیراء .... » یعني : « رسول الله «ص» یو سره د وریښمو چپن د اغوستلو لپاره راکړله (بیا دا چپن زما په ځان کي وه او) بهر په کي ووتلم نو ما د رسول الله په مخ د قهر نښي ولیدلي نو ما بیا دا چپن د خپلو ښځو تر منځ څیري کړله» بخاري کتاب اللباس

حضرت نافع له عبدالله او هغه له حضرت عمر «رض» څخه روایت کړي چي عمر «رض» د وریښـــمو یوه سره چپن په بازار کي ولیدله چي د خر څـون لپاره ایښودل شوي وه نو رسول الله «ص» ته یي ووېل چي که ویي پیري او د وفد (هیئت یا استازو) د راتللو په وخت او د جمعي په ورځ یي واغوندي نو رسول الله «ص» ورته وفرمایل چي « یقیناً اغوندي دا هغه څوك چي په اخرت کي برخه ونلري » او رسول الله «ص» له دي وروسته حضرت عمر ته د وریښمو یوه سره چپن د اغوستلو لپاره ورولیږله نو حضرت عمر ورته ووېل چي دا دي ما ته د اغوستلو لپاره راولیږله او ما له تا مخکي اوریدلي دي چي ویل به دي په دي هکله هغه څه چي تا ویلي دي ! نو رسول الله «ص» ورته وفرمایل چي (ما ددي لپاره نه ده درلیږلي چي ته یي په خپله واغوندي یقیناً ما ددي لپاره درولیږله چي خر څه یي کړي او یا یي بل چاته (ښځونه) ورواغوندي »

فقر ایدیولوژي سیاستگذاران بي بي سي ومسأله آزادي تعلیم وتربیه

امارت اسلامي افغانستان در پرتو ارزشهاي اسلامي با در نظرداشت منافع علیاي کشور، میکوشد تا مطابق شریعت اسلامي آزادي و عدالت رادرعمل پیاده کند.

اما چنانکه معمول است همانگونه که نیرو هاي خیر میخواهند به پاي خود ایستاده شوند، نیرو هاي شر در تلاش مي افتند تا مانع حرکت نیرو هاي خیر شوند، به همین جهت چون رونده گان راه تطبیق شریعت محمدي «ص» در کشور تصمیم گرفته اند مطابق ارزشهاي اسلامي حرکت نمایند، همه نیرو هاي که تطبیق اسلام را مخالف منافع پست حیواني خود مي بینند در مخالفت با امارت اسلامي و پلانهاي آن قرار مي گیرند.

رادیو B.B.C که پالیسیهایش بر اساس تبعیض، نا برابري و احیاناً ضد ارزشهاي دیني و مخصوصاً اسلامي است و نماینده گي از استکبار جهاني مي کند، از همان آغازي که جهاد علیه استعمار روسي آغاز یافت تا هنگامي که رژیم دست نشانده روسها در افغانستان در سراشیب سقوط بودند و پس از آنکه رژیم دست نشــــانده سقوط و جهاد از نظر سیاسي به پیروزي رسید و به تعقیب آن، تحریك طلبا توانست قدرت سیاسي را در کابل به دست گیرد و امارت اسلامي را تشکیل بدهد، رادیو بي بي سي از موضعي سخن میگوید که غالباً بر خلاف اسلام ، جهاد و استقلال ملي افغانستان است .

این مسأله را اگر دقیق بنگریم میتوانیم بر نیت بد طراحان پالیسي رادیو بي بي سي در مورد افغانستان با دلایل مقنع پي ببریم. چنانکه هنوز رژیم نجیب سقوط نکرده بود، ولي در آستانه سقوط بود که یکعده زیادي از وابسته گان اطلاعاتي و فرهنگي آن رژیم را به حیث تحلیل گر سیاسي، نطاق و مسؤولین بر نامه هاي خود تعین نمود که تا کنون نیز هم چنان به کار خود در آن دستگاه در لندن ایفاي وظیفه میکنندمانند:... در طراحي پالیسي هاي دولت نجیب نقش اساسي داشتند و نیز کساني همانند : ... در پیشاور به حیث نماینده گان آن رادیو مصروف کار هستند و یك سرویس منظم به نام برنامه هاي درامه ها در پیشاور از طرف رادیو بي بي سي وجود دارد که توسط شیراز الدین صدیقي اداره میگردد که در آن صرف کساني میتوانند جذب شوند که به نحوي از انحا خصوصیت ضد اسلامي و ضد ملي داشته باشد اگر به طور کل گفته شود که هیچ فردي از افغانها در بي بي سي کار نمي کند مگر آنکه از آن توقع خلاف مشي اسلامي و استقلال ملي افغانستان دست اندرکاران بي بي سي دارند اغراق آمیز نخواهد بود و البته نمي توان این امر را به تصادف حمل کرد.

قابل یاد آوریست که پروگرامهاي که در پشاور تهیه میگردد همه، آن از طرف

گل احمد «یما»

تعدادي از موسسات بین المللي مربوط سازمان ملل متحد از قبیل UNHCR، UNICEF و ICRC و غیره تمویل میگردد که البته در سیاست گذري آن برنامه ها این موسسات نیز دخالت دارند. چنانکه برنامه مسلسل «نوي کور، نوي ژوند» و برنامه هاي آبادي و غیره مستقیماً زیر نظر نماینده گان آن موسســـات بین المللي تهیه میگردد که جز توهین به ارزشـــهاي اخـــلاقي و عنعنوي ملت افغانستان و تخریب دست آورد هاي جهاد وظیـــفه یي ندارند. به همـــین سان پروگرامهایي که به همکاري افغانهاي مقیم غرب در لندن تهیه میگردد و در آن از تاریخ معاصر افغانستان و تحولات فرهنگي، اجتماعي و سیاسي صحبت میشود و یا با اشخاص مشخص مصاحبه به عمل مي آید، همه آن یك پالیسي مشخص ضد ارزشهاي اسلامي و ضد منافع ملي افغانستان بوده و از نظریات عده ي از افراد و سازمانهایي نماینده گي میکند که سالها به برده گي روسها تن در داده و در موقع شکست روسها به حلقات استکباري و استعماري غرب که با روسها در ارتباط بودند، پناه بردند و در حال حاضر مي کوشند به حیث مهره هاي یك شبکه بزرگ جهاني که فاقد ایدیولوژي و فاقد ارزشهاي اخلاقي و سیاسي هستند، در خدمت سیستم جهاني استعمار بر خلاف ارزشهاي والاي انساني به تبلیغات زهر اگین به شیوه یي که بي بي سي خود در پنجاه سال اخیر در آن آبدیده شده است، مي پردازند چنانکه درین اواخر برنامه مفتضح آنها بنام «بیوه ها» از طرف همین رادیو، در پشاور تازه به نشرات آغاز کرده و میخواهد یکي از جنبه هاي مهم اخلاق انساني را با بیشرمي مورد حمله قرار بدهد. ابتذال و فضاحت این برنامه چنان آشکار است که نمیتوان آنرا با جزئیات تجزیه و تحلیل کرد، بلکه میباید فقط بر اهداف طراحان آن اشاره نمود و آنرا مورد دقت قرار داد. همین برنامه بیوه ها است که ازطرف مسؤولین امارت اسلامي افغانستان مورد انتقاد قرار گرفته و علیه آن شدیداً اعتراض صورت گرفت . چون فعالیتهاي رادیو بي بي سي در طي همین بیست سالي که جهاد در افغانستان ادامه داشته بسیار خصمانه و ضد انساني بوده ضرورت دارد تا به عنوان یکي از ارگانهاي بین المللي که در جنایاتي که در افغانستان صورت گرفته است، همسنگ یکتعداد سازمانهاي بین المللي به محاکم جنایات جنگي بین المللي کشانده شود زیرا هنوز هم جنایتکاران جنگي را در دستگاه خود نه تنها پناه داده است، بلکه به آنها صلاحیت میدهد تا به عنوان مهره هاي ضد منافع ملي افغانستان و ضد ارزشهاي والاي انساني و اسلامي به کمك همکاران انگلیسي روسي ایراني و ... خود، هنوز هم آتش جنگ را در افغانستان مشتعل نگهدارند و فرزندان اصیل این خاك را قرباني اهداف سیاستمداراني نمایند که سیاست را دکاني براي منافع پست مادي خود در سطح ملي، منطقوي و بین المللي قرار داده اند و میخواهند این خاك و این ملت‌را از ریشه‌بردایند.

ما در حالي که سیاست آنها را در سطح جهاني شکست خورده میدانیم، نمیتوانیم در برابر کار کرد هاي ریزه خواران سفره، آن قدرتهاي مضمحل شده در عرصه ایدیولوژي و فرهنگ و مسایل اجتماعي وسیاسي‌بي‌اعتنابا‌شیم.

یکي از مسایلي که به نظر ما نقطه مرکزي اهداف فعالیتهاي آنها را میسازد، همانا دست اندازي به زنده گي خصوصي انسانها است، و آن بخشي از زنده گي که باید در تحت رشد عمومي شخصیت، فقط به وسیله خود افراد تنظیم گردد نه آن که در سطح نشرات و رسانه هاي همگاني مطرح شود و ذهن افراد را از مسایل اساسي و مهم سیاسي و اجتماعي انحراف بدهد، چه اگر مسایل خصوصي افراد در سطح رسانه ها مطرح میگردد، براي افرادي که هنوز به رشد کافي فکري نرسیده اند، غرایز را تحریك نموده و نه تنها اخلاق را فاسد میسازد بلکه نیسکذارد اندیشه فکر رشد کند، در نتیجه انساني که در تحت تبلیغ و تلقین چنین مطبوعات و رادیو و تلویزیون قرار مي گیرد، به اشخاص عقده مند خود پرست، ترسو و برده صفت و بي مسؤولیت بار مي آید که هیچ کار بزرگ را به نفع ملت خودوشریتانجام‌داده‌نمیتواند.

چون مسایل با مسأله اساسي تعلیم و تربیه در یك جامعه ارتباط میگیرد، و دیدگاههایي که در تعلیم و تربیه وجود دارد، ازین رو، دو دیدگاه مهم را در غرب میتوانیم مشخص کنیم.

یك دیدگاه همانست که رادیو بي بي سي در تلاش است تا آنرا به خورد شنوندگان خود بدهد و این دیدگاه را همه، انهایي تعقیب مي کنند که میخواهند انسانها را بي مسؤولیت و خود خواه بار بیاورند.

دیدگاه دیگر آنست که انسانها مسؤول در برابر جامعه و ملت و بشریت و جهان بار بیایند و به برده گي و اسارت تن در ندهند.

امارت اسلامي افغانستان ، بر اساس دیدگاه دوم است که میخواهد مسایل تعلیم و تربیه همه انسانها از جمله جوانان، اطفال، کهن سالان، زنان، دختران و در مجموع خانواده ها و تمام جامعه و بشریت را حل کند، چه اسلام چنین توقعي دارد. ما با آن نهاد هایي که از چنین دیدگاه پشتیباني مي کنند میخواهیم تا با امارت اسلامي افغانستان همکاري نمایند، تا تعلیم و تربیه اسلامي را در افغانستان جاري سازیم. در امریکا یونیورستي آرکانزاس میتواند پشتیبان چنین نظریه اسلامي باشد. به این جهت، ما توقع داریم که در بخش طرح هاي عمومي تعلیم و تربیه در کشور ما، آن پوهنتون با امارت اسلامي در مورد طرحهاي تعلیم و تربیه خود همکاري مستقیم و همه جانبه نمایند.

زموږ مجاهد اردو د اسلامي او ملي ارزښتونو ساتونکی

د میوند په تاریخي جنګ کي د افغاني توریالیانو کارنامي

عبدالهادي

یو ځغلند نظر : د امیر شیر علي خان له وفات ځخه وروسته د هغه مشر زوي یعقوب خان د افغانستان امیر شو په مي ۱۸۷۹ کي د امیر یعقوب خان او برطانوي حکومت تر منځ د ګندمك معاهده لاسلیك شوه، او ددي ترون په رڼا کي امیر په کابل کي د انګریزانو له سفیر سره موافقه وکړه چي په کابل کي به د انګریزانو د سفیر په توګه وي او له دي پرته د ژوب، پشین او نوشکي به سیمو د انګریزانو قبضه ټینګه شوه . او هم د ۱۸۷۹ کال د جولاي په ۲٤ نیټه د انګیرزانو سفیر میجر کیوناري د برطانوي حکومت د سفیر او نماینده په حیث کابل ته راغی .

دا ښکاره خبره ده چي تاریخ د چا مخه نه کوي د انګریزانو د سفیر د راتلو نه یوه نیمه میاشت پس د ټولو افغانانو ملي او اسلامي احساسات او جذبات د انګریزانو پر خلاف راوپارېدل . چي په کابل او د افغانستان په نورو سیمو کي بغاوت او ملي پاځون پیل شو. او هم د کابل زړ ور خلك په سفارت خاني را وڅرخېدل او کیوناري دا د انګریزانو بي شرمه استازي بي لکه د مکناتن او برنس خاننانو په څېر په قتل ورساوه، او د هغه سفیر ملګري یې هم ووژل .

او هم ددي پاځون او شورش سرایت تر هرات او کندهاره پوري ورسید په ۱۸۸۰ کال د اپریل په میاشت کي دا آوازي په کندهار کي په خورا چټکي خپري شوي چي د امیر شیر علیخان دوهم زوي سردار محمد ایوب خان په هرات کي د پیرنګیانو پر ضد ترتیبات نیسي او دغو آوازو د کندهار فضا هم په ځپو را وستله او هري خواته تلا آرامي پیښه شوه. د شپي به د انګریزانو په ګزمو د پټو خلکو لخوا برغل کیده د مسلمانانو ملي احساسات او ولولي خوراګرمي وي او د انګریزي دښمن پر وړاندي تیاري نیول کیده . په دغو ورځو کي د انګیرزانو یو ټولي عسکر له کوهکرانه ځخه کندهار ته روان وه چي نا ځاپي پري حمله وشوه او دوه تنه یې تپي شول.

په همدي وخت کي د انګریزانو سیاسي استازي کرنیل سنت هند ته تلګرامي خبر ورکړ چي ایوب خان د انګلیسانو پر ضد آماده ګي نیسي او هم له هند ځخه تلګرامي وویل شول چي ایوب خان په هرات کي د انګریزانو پر ضد جهاد اعلان کړیدي.

د مي په ۲۵ نیټه میرزا حسن خان د کندهار والي خبر ورکړ چي د زمینداور خلکو د محمد ایوب خان سره د نفرو او باري حیواناتو وعده کړیده او هم په هرات کي چي د کابلي او هراتي پلټنو تر منځ مخالفت وه اوس جوړ شویدي. دا پلټني چي د یوي مشرئي آغاسي خوشدل خان او د بلي مشرئي ناصر خان غلجایي وه د انګریزانو پر ضد یې ځانونه پر غل ته تیار کړیدي. همدا ډول کرنیل سنت جان ته خبر ورسید چي په فراه کي د محمد عمر خان نورزي په مرسته د پښتنو ستري پرګني دي ته آماده دي چي د محمد ایوب خان اکمالات وکړي.

ددي میاشتي په پاي کي د میجر لیچ په قومانده د کشف یوه قطعه میوند ته ولېږل شوه چي د ټولي سیمي کرو کي واخلي.

د جون په ۹ نیټه د محمد ایوب خان په امر ۱٤۰۰ هراتي سپاره د خوشدل خان په مشري راوخوځېدل. په عمومي ډول د محمد ایوب خان پوځ چي د زمینداور او شاخوا خلك د خپل پاك احساس له مخي ورسره یو ځاي کیدل په دي ډول دي : د پیاده (پلي) ځواك لومړي لوا - قوماندان تاج محمد خان تاجك (۳) منظم پیاده غونډ هر غونډ ۵۰۰ تنه .

د پلي دوهمه لوا : قوماندان سیدال خان . دوه منظم پلي غونډونه هر غونډه ۵۰۰ تنه او یو پلي غونډ له کندهاره ځخه .

د پیاده دریمه لوا قوماندان یې غفور خان ټول ۱۱۰۰ تنه .

ټول پیاده (پلي) ځواك ٤١۰۰ تنه .

د سپرلو لوا قوماندان عبدالرحمن خان ریکا، دري ګډ کابلي او د غزني غونډ ټول ۹۰۰ تنه .

د توپچي لوا : قوماندان احمد ګل خان کابلي. یوه غرني کچري بطریه د توپچیانو تعداد ۱۰۰ نفره . د اسانو بطریه چلوونکي ٤۰۰ تنه . ټول توپچي پوځ ۵۰۰ تنه .

غیر منظم سپاره په مختلفو رتبو ۲۰۰۰ تنه.

همدارنګه له فراه ځخه ۵۰۰ نفره د محمد یوسف خان او نادر شاه په مشري له څلورو توپونو سره ، له هراتي غونډ سره یو ځاي شول.

(د یوه روایت له مخي له سردار احمد ایوب خان سره ۱۲۰۰۰ تنه لښکریان یو ځاي شول)

د جولاي په اوله په کندهار کي انګریزان خبر شول چي سردار محمد ایوب خان په ډېري تندي مخ په کندهار په حرکت کي دي. نو انګریزانو هم خپلي قواوي د جنرال بارو تر مشري لاندي په قرارګاه کي دارنګه سمبال کړي :

کپتان میك مات د لوازمو سرپرست. کپتان هایش د امر افسر. تعتنتر دابر د لوازمو ددوهمي ځانګي آمر. میجر لیچ انجینر. د سپرلو د لوا قوماندان بریګډ جنرال نوتال . جزتامونه : سپاره (۲۰۷) تنه مشران څلور تنه افسران ، سپاره ۳۰۰ تنه مشران یې ٦ تنه .. افراد ۱۸۸۵ تنه افسران ٤۳ تنه .

قهرمانان مجاهد کشور

شهید غازی عبدالله اچکزایی

رستم «یوسفي»

عبد الله اچکزي در دامان خانواده شجاع و دلیري در محله شلوغ کوچه باغ نواب زاده شد و پرورش یافت .

در میهن عزیز ما و به ویژه در کابل تاریخي و زیبا جوش و خروش پر توانی به چشم میخورد ، صفوف پولادین مجاهدین در کابل پیوسته نیرومند میشد و طولاني میگردید ولي فاقد رهبري نظامي و سیاسي بود .

سران جهادي در صدد این بودند که قیام مردم مجاهد باید رهبري واحدي داشته باشد همان بود که در جستجوي شخصي شدند که توان و قدرت رهبري موج توفانزاي جهاد علیه انګلیس را داشته باشد.

روي این کار ابر مرد دیگري (نایب امین الله خان لوگري) بیشتر از دیگران مي کوشید ولي خودش در فکر رهبري نبود ، او میخواست جهاد مسلمانان افغانستان علیه انګلیس ها باید چنان منظم شود که گویي قطعات عسکري می جنگند و از اوامر رهبران خود اطاعت میکنند .

نایب امین الله خان غازي شناخت محدودي با غازي عبدالله خان اچکزایي داشت ولی اینقدر مي دانست که اچکزایي جوان هوشمند ، پر جاذبه و ساز ماندده است این نظر در مغز امین الله خان لوگري نقش بست که بایست با عبدالله خان مسأله را از این دیدگاه که حاکمیت دیني وملي و شرف و آزادي کشور در خطر است مطرح سازد و از وي تقاضا کند که چون اخګري در میان دود باروت توپ و تفنگ قرار گیرد و بحیث رهبر مجاهدین سینه اش را آماج تیر هاي آتشین دشمن سازد.

تني چند از مجاهدین راه حق همراه با نایب امین الله خان غازي در اول فبروري ۱۸٤۱ وارد منزل عبدالله خان اچکزایی شدند، غازي اچکزایي از مهمانان پذیرایی پر حرارتي کرده و آنچه در خانه داشت بر روي دستر خوان اورد .

عبدالله خان غازي از قبل میدانست که در بوته ازمایش قرار میگیرد . بعد از صرف نان نایب امین الله خان موضوع را با وي مطرح ساخت غازي اچکزایي که عشق به اسلام و میهن چون گوهر درخشاني در وجودش تجلي داشت با خواست مجاهدین توافق نمود و در همین روز بگفته مرحوم میر غلام محمد غبار ، غازیان «طرح انقلاب عمومي را ریختند» . فضاي اعتماد متقابل بمیان آمد ، کوره نبرد داغتر گردید و نهاد هاي جهاد و مبارزه پر عظمت افغانها نیرومند تر و عمیقتر گشت.

صف هاي مجاهدین به ستونهاي شکست ناپذیري مبدل گردید و زایش پر جلال جهاد علیه دشمن مکار آواي پر آوازه یافت و تنش ها میان مجاهدین غازي به نقطه اوجش رسید.

غازي اچکزایي در همکاري و همسویي با همرزم دلیرش نایب امین الله خان لوگري هر روز طرح جدیدي را نقشه میکرد و از آن بطور مستدل دفاع مینمود.

گروه هاي مجاهدین از گوشه و کنار کابل باستاني گرد هم جمع مي شدند و پیروزي رهبران شان را در اتحاد و باهمي به ستایش مي نشستند.

گرشناسان انګلیس در صدد آن بر آمدند که میان مجاهدین نفاق و شقاقي بوجود آید . استعمارگران، این پاسداران ظلمت و تاریکي از هیچگونه حیله و نیرنګي در این راه دریغ نکردند. و با تلاش هاي بیشرمانه تني چند از اشخاص ذلیل و وطنفروش را تدارك دیدند و به آنها پولهاي زیادي بخشش کردند ولي تلاش بزرگ انګلیسها جامه عمل نپوشید .

جنگ در «بي بي مهرو» میان مجاهدین و نیرو هاي تا دندان مسلح انګلیسها ، شروع شد مجاهدین شجاع از هرگوشه و کنار کشور ، خود را آماده غزا کردند و بکابل رهسپار شدند.

غازي اچکزایي در میان مجاهدین قرار داشت و یکي از اهداف مهم انګلیسها این بود که او را از میان بردارند تا هسته مرکزي جهاد افغانها در ضدیت با ایشان از هم فرو پاشد.

انګلیسها جزوتامها و قطعات شانرا که نزدیك به سه غند پیاده مسلح مي شد در داخل قشله بي بي مهرو اماده پیکار نمودند. جنگ شدیدي در گرفت قواي توپچي انګلیس پیوسته آتش میکرد و مجاهدین دلیر در زیر رګبار هاي آتشین دشمن بسوي قشله پیشروي میکردند . نقاط کلیدي ارامي مانند تپه هاي مشرف بر قشله و محله بي بي مهرو بدست انګلیسها بود و چنین مي اندیشیدند که جنگ به نفع آنها پایان خواهد یافت ولي چنین نشد، مجاهدین افغان درخاك و خون مي غلطیدند ولي شکست و عقب نشیني را ننگ میدانستند.

میدان نبرد بي بي مهرو پر خون گشت ولي جنگ ادامه داشت توپهاي انګلیس میغریدند و غازیان را نقش زمین میکردند ولي باز هم موج پي موج غازیان بر انګلیسها فشار وارد میکردند.

غازي اچکزایي در صف نخست نبرد قرار داشت و همراه با دیگر رهبران جهاد مقدس نیرو هاي خود را سوق و اداره میکرد جنگ شدیدي درجریان بود و نیرو هاي انګلیس زیر ضربات کاري مجاهدین عقب نشیني میکردند در همین اوان بود که میر عبدالعزیز یکي از مزدوران و گماشته گان انګلیس از عقب بر عبدالله خان حمله کرده و اورا با گلوله زخمي ساخت .

مجروح شدن این غازي نامور مجاهدین را بشدت متالم و سرخورده ساخت ولي دست از مبارزه بر نداشتند غم و اندوه بر شهر کابل و صفوف غازیان از نبود غازي اچکزایي سنگیني میکرد ، تاآنکه وي با بدن زخمي اش که یاراي پیاده گشتن را هم نداشت ، سوار بر اسپش کوچه هاي کابل را دور زد.

مجاهدین از دیدن این غازي دلیر بسي خوش شدند . عبدالله خان در بستر شهادت بود و به سختي حرف زده میتوانست ولي طرز تفکر وي در پلانهاي جهاد مقدس جایگاه خاصي داشت . وي آخرین نفسهایش را مي کشید ولي اراده آهنینش چون کوه بزرگي استوار بود غازیان از تمام گوشه هاي کشور به عیادتش مي شتافتند و از احوالش جویا مي شدند. این است محبت و عشق، این است شجاعت و بزرگي، عبدالله خان غازي چون ابر مردي در چاردهم شوال ۱۲۵۷ داعي اجل را لبیك گفت ولي خاطراتش هنوز در اذهان موجود است .

تاریخ اشتباه نمیکند ، قضاوت تاریخ درست و بجا است ، تاریخ بر کسي رحم ندارد اگر از یکسو از عبدالله خان غازي یاد مي کند از جانب دیگر عبدالعزیز خاین را که گلوله هاي تفنگش عبدالله خان غازي را زخمي ساخت به نام خاین معرفي میدارد از قضاوت تاریخ باید آموخت و آنرا بکار بست .

د کندز له فتحي وروسته د اسلامي اردو د مجاهدینو او طالبانو د بریاوو بهیر

سمیع الله «سمیع»

په داسي حال کي چي د تیر ۱۳۷٦ هـ ش کال د غبرګولي د میاشتي په دوهمه لسیزه کي په جبل السراج او د بغلان په څېنو سیمو کي د طالبانو مخالفینو تر منځ جګړي روانې وې او د پلخمري ښار د طالبانو تر ولکي لاندي او طالبانو په دغه ښار کي د مخالفینو له خوا د محاصري په توګه دوه اوني تیري کړي نو په یو تکتیکي توښت یې لاس پوري کړ او د یوي بلي سیمې ستراتیژیکي سیمي د نیولو له پاره یې د پلخمري ښار مخالفینو ته پرېښوده او د بغلان په لوري شاته شول د په کندز باندي یې د حملي له پاره ځان چمتو کړ د تیر کال د غبرګولي په ۲۷ مه د طالبانو له خوا د کندز هوایي ډګر ونیول شو او جګړه د کندز د ښار په لور روانه وه او تر څو به پښېږه توګه د مسلمانو خلکو او سیمه ییزه قوماندانانو په مرسته د کندز ولایت د طالبانو تر ولکي لاندي راغي او په دغه جګړه کي په مړو او ټپیانو بر سیره د مخالفینو یو شمېر کسان ، طالبانو ژوندي ونیول. ددغې ستراتیژیکي سیمي په نیولو سره مخالفینو ته په پوځي او سیاسي لحاظ سخته ضربه ورسیدله. مخالفینو له ډېري وارخطایي ځخه د کابل په ښار وخت نا وخته بمباري پیل کړه او په خپله رباني او د رباني ائتلافي الهیوالانو د کابل د غیر پوځي کولو نعاري پیل کړي . د کندز د بشپړي فتحي له امله د مخالفینو یو شمېر قوماندانانو د هواد په ګوټ ګوټ کي د جګړه خوښه د عالیقدر امیر المؤمنین د بیعتي د فرمان په رڼا کي د طالبانو ځواکونو ته تسلیم شول او آن دا چي د مخالفینو یوه حیثیت الوتکه د جنرال نقیب الله لوګري په پیلوټي د کابل په هوایي ډګر کي کیناسته له مخالفینو ځخه رو ګودر ورك شکاریده او ددي له پاره چي د طالبانو په وړاندي خپلي ماتي پټي کړي نو احمد شاه مسعود په شمالي کي د طالبانو په وړاندي جګړي ته زور ورکړ او له بلي خوا اسرل شوي جمهور رئیس برهان الدین رباني د حکومت د جوړېدو ناري پیل کړي او دغه نارو په ترڅ کي یې د عبدالرحیم غفورزي په مشري په سالنګ کي د تیر کال د اسد د میاشتي په ۲۲ مه د حکومت د جوړېدو اعلان وکړ او د مخالفینو دغه ټولي سیاسي او پوځي هلي ځلي د ایران او روسیي د مشاورینو په مشوره او لارښوونه سرته رسیدلي. د رباني نوي خیالي حکومت چي د عبدالرحیم غفورزي په مشري جوړ شوي و د تیر کال د اسد د میاشتي په ۳۰ مه په بامیانو کي د یوي ترانسپورتي الوتکي په راغورزیدو سره دړي وړي شو هغه دا چي په نوموړي الوتکه کي د رباني د خیالي حکومت صدراعظم عبدالرحیم غفورزي او ځیني لوړ رتبه کسان له منځه لاړل او د رباني سیاسي هیلي د خاورو سره خاوري شوي. په سیاسي ډګر کي د ملګرو ملتونو د خاص استازو داکتر اخضر ابراهیمي او تاریت هول هلي ځلي رواني وي او وخت په وخت یې مزار، کابل، کندهار او اسلام آباد کي د افغانستان د اسلامي امارت د مقاماتو او د مخالفینو سره یې د افغانستان د مسألي د سیاسي اواري په باب خبري کولي او د تیر کال د سنبلي په ۲۱ مه یې په کندهار کي د اسلامي امارت د مقاماتو سره له خبرو وروسته د اسلامي امارت او مخالفینو تر منځ د خبرو کولو له پاره د یوي کمیتې په جوړولو موافقه وکړه د بلي خوا د طالبانو د پوځي بریاوو په بهیر کي د تیر کال د سنبلي د میاشتي په ۱٦ مه د اسلامي اردو ځواکونو د محلي قوماندانانو او مؤمنو خلکو په مرسته د تاشقرغان تنګی د ملا خیر الله خیرخواه په قومانده ونیوه په دغه عملیاتو کي د مخالفینو ۲۰۰ تنه مړه ۵۰۰ تنه ژوندي ونیول شول او زیات شمیر ټانکونه، درني او سپکي وسلي او مهمات د اسلامي اردو ځواکونو تر لاسه کړل او ددي سره جوخت د سمنګانو په ولایت کي د دلم ولسوالي هم د اسلامي اردو ځواکونو ونیوله . په مزار شریف کي د چمتال ولسوالي هم فتحه شوه وریسي یې د مزار شریف هوایي ډګر هم ونیو او ټولي الوتکي او پوځي تجهیزات د طالبانو او مجاهدینو لاسته ورغلل. د شبرغان له هوایي ډګر ځخه دري جیت الوتکي هم طالبانو ته تسلیم شوي

د مزار شریف ټولي اکمالاتي لاري طالبانو تر خپل کنټرول لاندي ونیولي او د مزار شریف ښار د اسلامي اردو د طالبانو او مجاهدینو له خوا محاصره شو. د مزار د ښار د نیولو په نیت د اسلامي اردو د ځواکونو عملیات پر مخ تلل او د عملیاتو عمومي قوماندان ملا خیر الله خیر خواه له وسله والو کسانو نه وغوښتل چي تسلیم شي او هم یې د ملکي خلکو نه وغوښتل چي ښار تخلیه کړي تر څو د سر زیان ورته ونه رسیږي .

د مخالفینو له خوا د وحدت ډلي د مزار په ښار کي د طالبانو په وړاندي مقاومت کاوه او ددغې ډلي افرادو د خلکو د مالونو او کوروټو په چور او تالان لاس پوري کړ و او هم یې د ملګرو ملتونو د مرستي ټولي موسسي چور کړي وي، د مزار د جګړي سره جوخت د تخار ، بادغیس او فاریاب په جبهو کي هم جګړه روانه وه . د مسعود قواو زیات کوښښ کاوه چي د تخار د ښکي د استقامت ځخه په کندز باندي حمله وکړي چي په یوه حمله کي د طالبانو له خوا د مسعود قواوو ته زیات زیان ورسیده او حمله یې ناکامه شوه . مخالفینو د اسلامي امارت د ځواکونو په وړاندي جنګي موزال بیخي له لاسه ورکړي و په دغه وخت کي روسیي ، ایران او ترکیي کوښښ کاوه چي جنرال دوستم له ترکیي ځخه بیرته مزار ته ولېږي تر څو د خپلو پلویانو په مرسته د طالبانو په وړاندي په جګړه کي برخه واخلي په دغه وخت کي د اسلامي اردو ځواکونه د مزار د ښار اوه کلو مشري ته نژدي شوي وو چي د تیر کال د سنبلي د میاشتي په ۲۱ مه جنرال دوستم د هیلیکوپټر په وسیله د مزار شریف په قلعه جنګي کي ښکته شو. ځینو مخالفینو د جنرال دوستم د راتللو ځخه ځان نا خبره ښوده او په دغه ورځو کي د مزار شریف څو تنو مخالفو قوماندانانو د امیر المؤمنین سره خپل بیعت اعلان کړي و . د جنګي عملیاتو په بریالي بهیر کي طالبانو وکولاي شول چي د تیر کال د سنبلي د میاشتي په ۲٦ مه د چهارشنبي د ورځي په مازدیګر د حیرتانو ښار له مخالفینو ونیسي. د طالبانو د پوځي بریاوو له امله د مخالفینو پوځي او سیاسي حالت لا زیات خراب شو او په دي کوښښ کي وو چي د عبدالرحیم غفورزي په ځاي بل ځوك صدراعظم وټاکي، د بلي خوا نه ملګرو ملتونو کوښښ کاوه چي په سلامتي سره خپل پرسونل له مزار شریف ځخه ویاسي. د ملګرو ملتونو ددغو هڅو له امله د اسلامي اردو ځواکونو اعلان وکړ چي که چیرته ملګري ملتونه خپل پرسونل په الوتکه کي له مزار ځخه انتقالوي نو هغوي به الوتکه راونه غورزوي. مخالفینو د خپلو پوځي هڅو په ترڅ کي د تیر کال د سنبلي د میاشتي په ۲۹ مه په مزار شریف کي د کمپ شرك او حارك له استقامت ځخه د جنرال دوستم په قوماندنه د اسلامي اردو په ځواکونو حمله پیل کړه خو په دغه حمله کي د جنرال دوستم ۵۰ تنه مړه او ۳۰ تنه ژوندي ونیول شول او هم یو شمیر ټانکونه او نوري درني وسلي د طالبانو لاسته ورغلي. په داسي حال کي چي مخالفینو کوښښ کاوه چي د حیرتان بندر بیا له طالبانو نه ونیسي طالبان په دي بریالي شول چي د تیر کال د میزان د میاشتي په ٤ مه د مزار شریف اتلسمه فرقه او قلعه جنګي د ګلم جم له ملیشو ځخه ونیسي د کود برق سیمه یې د ګلم جم له ملیشو ځخه پاکه کړه او د هوایي ډګر په لور سخته جګړه روانه وه . جنرال دوستم د خپلو ملګرو سره له مزار نه وتښتېده . د اسلامي اردو ځواکونو او مخالفینو تر منځ د مزار شریف د هوایي ډګر په لاره سخته جګړه روانه وه او طالبان د مزار د ښار دروازو ته رسیدلي وو په ښار کي د وحدت ولي د طالبانو په وړاندي سخت مقاومت کاوه په دغه وخت کي د طالبانو مشر ملا خیر الله خیر خواه اعلان وکړ چي که چیرته وسلوال کسان خپلي وسلي تسلیم کړي نو د امیر المؤمنین د فرمان له مخي بښل کیږي . د مزار د ښار په نظامي مرکزونو باندي د اسلامي امارت د هوایي ځواکونو پر له پسي بمبارۍ روانه وه ایران او روسیي په خپل ډول لوار سره کوښښ وکړ چي د مخالفینو له پاره زیاتي درني او سپکي وسلي ورورسوي او دغه کار ددي سبب شو چي د مخالفینو پوځي مورال لوړ کړي او مخالفین په دي وتوانیدل چي د مزار د ښار محاصره ماته کړي . د مخالفینو فشار د ښکي سره او د حیرتانو په ښار ژر تیر کال د میزان د میاشتي مه د سه شنبي په ورځ ښار مخالفینو ونیوه .

روح "ساهو" با یك دنیا امید به سوي ملکوت به پرواز در آمد

احمد ضیا "شریفي"

گرماي تابستان بیداد میکرد، خاموشي خفه کننده، همه جا را فرا گرفته بود، فکر کردم شاید تموز تابستان است که همه را بیحال نموده است اما نمیدانستم در آنسوي مرز، در کشور همسایه ام قلب انسان از خود رسته، همیهنم ساهو عزیز از حرکت مانده است. نمیدانستم که ساهو دیگر قلم نمیزند، شعر ناب نمیسراید و داستاني رقم نمیزند. نمیدانستم که روحش به سوي ملکوت به پرواز در آمده خودم را دلتنگ احساس میکردم که این خبر غم انگیز را شنیدم، که ساهو جهان فاني را وداع گفت. روحم بیشتر ازپیش فشرده گشت.

ساهو مهربان، قلم بدست توانا، فرهنگي اصیل، تو رفتي و به خانه، ابدي ات آرام گرفتي، اما نه تو آرام نگرفته اي، زیرا من میدانم که روحت هنوز هم میطپد و شاید عده فکر کنند که روح تو سرگردان خانواده است، سرگردان زن و فرزندت است؛ اما من میدانم که سر گرداني روح تو صرف از این بابت نیست بلکه سرگرداني روح تو ناشي از آن اندوه عمیقي میشود که در لابلاي نوشته هایت انعکاس یافته است و آن غم میهن و هم میهنانت بود. غم آن داشتي که بدستان خود میهن ویران شده ات را آباد نمایي و شاهد جابجایي هم میهنان مهاجرت در وطن عزیز باشي؛ اما مرگ ترا مجال نداد تا به آرزویت برسي بنا، میدانم که روحت در اطراف این مسأله همیشه در حرکت است اما، این را بدان برادر ساهو که این آرزوي تو بدست برادران مجاهد و هم میهنان مسلمان تو تحقق مییابد.

بلي! برادر امان الله ساهو یك مجاهد سر به کف راه اسلام از طریق کتاب و قلم بود او در سال ۱۳۳٦ در ولایت کندز دیده به جهان گشود. تعلیمات ابتدایي خویش را در لیسه شیر خان کندز به پایان رسانیده و سند لیسانس خویش را از پوهنحي ساینس پوهنتون کابل دریافت کرد. در سال ۱۳۵۹ زماني که ظلم و ستم روسان مستکبر و خلقي هاي بي حیا و پرچمي هاي بد مست بیداد میکرد راهي دیار هجرت گردید.

مرحوم ساهو یکي از چهره هاي شناخته شده و ستاره، درخشنده آسمان ادبیات جهادي و یکي از جوانان قبول شده شعر پشتو بود موصوف در شعر آزاد استعداد خاص داشت.

مرحوم ساهو نه تنها در شعر بلکه در نثر نیز دسترسي کامل داشت و از وي سفرنامه دوران جهاد باقیست. متوفا ساهو در این اواخر به نوشتن ناول هم دست یازیده بود.

مرحوم ساهو چندین مجموعه شعري از خود به جا مانده که متاسفانه تا حال اقبال چاپ نیافته است. شادروان ساهو بر علاوه اینکه درجهاد عملاً سهم داشتند یك تصویر پرداز خوب دوران جهاد بود که از وي آثار زیاد برایمان به یادگار مانده است.

بالاخره این راهروخستگي ناپذیر ادبیات پشتو در ۲۵ سرطان در مدین سوات کشور پاکستان در اثر سکته قلبي داعي اجل را لبیك گفت.

انا لله و انا الیه راجعون.

جنازه مرحومي با اشتراك عده، زیادي از فرهنگیان در هدیره شاعر بزرگ و توانا پشتو مرحوم رحمان بابا در جوار مرقد شاعر نازك اندیش دري مرحوم استاد خلیل الله «خلیلي» به خاك سپرده شد.

روحش شاد و یادش گرامي باد

د کندهار د مخابراتو رئیس محترم ملا رحمت الله اخند له ...

ځواب: د کندهار کې د مخابراتو کار د لومړي ځل لپاره په ۱۳۳٦ هـ ش کال پیل او په ۱۳٤۰ کې ۵۰۰ لینه تیلیفونونه فعال شول او له نورو ولایاتو سره هم د کانالي او فزیکي (یا د دوه سوچبوردو په وصل سره چې په هرو ۱۲۰ کیلو مترو کې یو سوچبورد نصب شوي و) پواسطه ارتباط تړول کیده بیا په ۱۳٦۵ هـ ش د جګړو له امله ټوله دستګاه (فعال دولس چینله) له وداني سره له منځه ویوړل شول چې د هغه وخت کارګرانو یو کوچني سوچبورد لرکل بطري چې د لس لینونو ظرفیت یې درلود د خورو لاندي ته راوویست چې ځني ضروري ادارو ته وویشل شو بیا تر کال ۱۳۷۳ هـ ش یعني د طالبانو د اسلامي تحریك تر بریالیتوب هغدا جریان حاکم وو بیا د طالبانو د اسلامي تحریك مشرانو د مخابراتي سنونزو د حل لپاره یو دانه سوچبورد ۱۳۰ لینه سنترال نیمه اتومات، دوه سل لینه سوچبورد او یوه ٤۰ لینه دستګاه ویلورلي او په کال ۱۳۷۵ هـ ش د یوره اتومات دستګاه اتومات هم فعاله شوه چې اوس په ټول کندهار کې ۵۰۰ لینه تیلفونونه فعال دي او ٤۰ پایي په کې پوره اتومات دي چې له سنترال پرته هم تماس نیولي شي.

پوښتنه: په کندهار ښار کې نصب تیلفوني سیستم خو ډیر زوړاوله موده لویدلي سیستم دي ایا تاسي د نوي او مادرن سیستم لپاره لاس او پښې خوځولي دي؟

ځواب: بلي مونږ د اسلامي امارت له مشرانو او نورو سوداګرو سره په دي اړه خبري کړیدي چې دا دستګاه قوي کړو، نوي په عصري سیستم مجهز سوچبوردونه پیدا کړو له ولایاتو او بهر سره اسانه ارتباط ونیولي شو.

پوښتنه: له نورو ولایاتو سره او له هیواد نه بهر تیلفوني ارتباط مو څه ډول دي؟

ځواب: له ولایاتو سره په ریلي (بي سیم یا انکره) ډول ارتباط نیولي شو او له هیواد نه بهر خو مو متأسفانه تیلفوني تماس قطع دي.

پوښتنه: د تیر کال د عوایدو په اړه معلومات راکړي!

ځواب زمونږ د سر کال عواید دېرشوا به پرتله سل په سلو کې ډېر وي تیر کال زمونږ په بانکي حساب کې د اوه نیم سوو ملیونو افغانیو په شاوخوا کې جمع شویدي.

پوښتنه تیلفوني سیستم مو هوایي دي او که د ځمکي لاندي دي؟

ځواب: زمونږ تیلفوني سیستم د ښاروالي له نقشي سره سم د ځمکي لاندي دي خو کله چې د تیلیفون له فرعي مرکز نه کور، دفتر یا د کان ته تیلفون غزیدلي دي نو دا تار په هوا کې کش شویدي.

په شمال کې نه دولت شته ...

کې راګیر پاتي شوو همدارنګه حکمتیار له خپلو خبرو وروسته د محصلینو ډیرو پوښتنو ته ځوابونه هم وویل د یوي پوښتني په ځواب کې هغه وویل که ماته څوك ضمانت راکړي چې د طالبانو په خلاف جنګ به وروستي جګړه وي او بیا د متحدي جبهي غړي د قدرت د ویش پر سر په خپلو منځو کې سره نه نښلي زه همدا نن حاضر یم چې د طالبانو په خلاف وسله را واخلم خو ټول پوهیږو چې بیا به هم ویني توییږي دا ځکه چې ددي جګړي نه شعار مقدس دي او نه یې هدف سپیڅلي دي.

کله چې له حکمتیار څخه د اقتصادي ستونزو د عواملو په هکله پوښتنه وشوه هغه داسي ځواب ورکړ: د روسانو له یرغل وروسته تر ټولو لویه دښمني او خیانت د دوسره زیاتو پیسو چاپول او بیا یې په جنګ کې مصرفول و(دا خبره رباني ته متوجه ده)

هغه زیاته کړه د تجیب د حکومت تر پایه له ۱٦۰ ملیاردو افغانیو څخه زیاتي چاپ نشوي خو د رباني لخوا تر اوسه ٦۵۰۰ ملیارده افغاني چاپ شوي دي. حکمتیار له متحدي جبهي او د رباني له حکومت سره د همکاري د نه کولو د لیل په هکله په تعجب سره وویل کوم دولت؟ آیا په شمال کې د دولت یا حکومت په نامه کوم اداره شته؟ وزارتونه یې چیرته دي؟ صلاحیت یې څه دي؟ ایا وزیر داخله په خپل ښار کې امنیت راوستي شي؟ آیا وزیر خارجه خپل سفارتونه پیژني! آیا د مالیي وزیر د پیسو له چاپ او مصرف څخه خبر دي؟ نو ځکه خو وایم چې په شمال کې نه حکومت شته او نه متحده جبهه او نه یې موږ غړیتوب لرو.

د افغانستان د اسلامي ...

اوږد کتار جوړ کړ او څه شي چې د مسافرینو سره وو هغه یې ټول ترینه واخیستل او په دغه ډول یې یو ځل بیا د خپلو ناروا اعمالو څخه پرده پورته کړه. رارسیدلي رپوټونه زیاتوي چې په جوزجان، سنګان، تخار او سر پل ولایتونو کې هم د مخالفینو د وسله والو کسانو له خوا د بیت المال او د خلکو د شخصي شتمنیو چور روان دي او خلك د ملیشو د ظلم او ناروا څخه تر دوه سپوږمو رسیدلي دي.

په فرانسه کې د رباني ...

شول نو داود میر یې تر تهدید لاندي ونیو خو داود میر د لیل راوړ چې زمرد یوي نړیوالي مافیایي ډلي له ده نه تښتولي ددي پیسي پر سر د داود میر او ولي مسعود تر منځه جګړه پیښه شوه چې خبر یې احمد شاه مسعود ته هم ورسید. احمد شاه مسعود د داود میر د مجازات په نیت د فرانسي حکومت ته د هغه د لیري کولو حکم ورکړ خو څرنګه چې له تیرو حالاتو څخه د فرانسي حکومت پوره خبر درلود نو د رباني سفارت یې وتاړه دا خبره د فرانسي مطبوعاتو هم خپره کړیده.

دفوائد عامي سرپرست وزیر محترم ملا الله داد ...

طالبانو د تحریك د کامیابي په هیله د زړه له کومي خپل احترامات وړاندي کوم و بعد:

خوشحاله یم چه نن د شریعت اونیزي کارکوونکو د فواید عامي وزارت د روازه وټکوله او هغه وتلي اواز چه د عمران، بیا رغوني او مجدد فعالیت نمونه ده خپلو وطنوالو ته وړاندي کوم.

محترم ورونو په لمړي سر کي غواړم د فواید عامي وزارت په هکله د تیرو شویو اجراتو، اوسني حالت او د راتلونکي په اړه خپلو وطنوالو ته معلومات عرض کړم.

دا جوته خبره ده چي د فواید عامي وزارت تقریباً په لسو تیرو لسیزو کي د مملکت ساختماني چاري لکه سرکونه(لویي لاري) پلونه، هوایي میدانونه، بندونه، مکتبونه، مدرسي، مساجد، د خلکو د اوسیدلو کورونه، دولتي او عام المنفعه ماني او قصرونه، د صحي اویو رسول، خدماتي کارونه او نور خدمتونه سرته رسولي دي او د هیواد والو د استفادي وړ یي ګرځولي دي. د خارجي قرار دادو سره سم سمنت، سیخ ګول، قیر او نور ساختماني مواد او ساختماني وسایط او فابریکي لاس ته راوړل شویدي.

چي د معلوم الحال لامل له مخي ټولو هیوادوالو ته پته ده چه په تیرو دوه لسیزو کي د کمونستي او الحادي حرکتونو او هم د سره ځیلي پوځ د مستقیم یرغل سره سم نه تنها ساختماني پروژي په ټپه ودریدي بلکه قراردادونه هم د روابطو د نشتوالي له مخي له خارجي هیوادونو سره سقوط شول.

د خارجي باداراتو په لمسون د شر او فساد رژیم هم راکښي جنګونه شروع کړل، وطن بي وران، ساختماني وسایط او ذخیري یي لوټ او ګډوډي کړي تر څو د طالبانو اسلامي تحریك پیل کابل فتح شو، امنیت تأمین او د امنیتي مسایلو سره سره د فواید عامي وزارت، هم خپل ساختماني حرکت پیل کړ چه وسایط د فساد د ځالو د غلو له کورونو او مرکزونو څخه یي د ځلورو میلونو راټول کړل او د څه ترمیم وروسته یي په مختلفو پروژو کي په کار واچول.

د کار د پیل په خاطر د خارجي او پلان له محترمو وزارتونو سره د خارجي کمکونو د جلب اوجذب پلمه له سره ولیول شوه چي د نتیجي په لاس ته راوړلو به یي هیوادوال خبر کړو. په داخلي سطحه پاندي هم په مختلفو ولایاتو کي لکه کابل وردك، میدان، غزني، پکتیا، خوست، جلال اباد او کندهار کي ساختماني کارونه پیل شول، البته هغه کارونه او هغه پروژي چه د افغانستان د اسلامي امارت او هم د سرپرستي شورا مقام او د پلان وزارت د حکم او موافقي سره سم په کي مونږ خپل کارونه سرته رسولي او هغوي ته په لمړي قدم کي ارجحیت ورکول شویدي او هر هغه کارونه چه د طالبانو د تحریك لخوا د کابل د فتحي نه تر اوسه پوري اجرا شویدي دا دي:

۱- د جلال آباد - کابل لویه لاره چه تخمیناً شل کیلو متره په خامه توګه ترمیم شویده او کار یي دوام لري.

۲- د ګردیز - خوست لویه لاره چه ۱٤ کیلو متره پوخ ترمیم او هم خامه ترمیم ترسره شویدي او کار جریان لري.

۳- کابل - کندهار لویه لاره چه ۳۰ کیلو متره له دوراهي پغمان څخه تر سالارو او میدان ښاره پوري په خامه ډول ترمیم شویدي.

٤- د غزني - کندهار لویه لاره چي ۵۰ کیلو متره ترمیم شویده او کار هم جریان لري.

۵- د کندهار - سپین بولدك لویه لاره چه ٤۰ کیلو متره خامه او ۲۰ کیلو متره پخه ترمیم شویده او کار هم جریان لري.

٦- د کندهار څخه تر میوند ولسوالي پوري د پلونو او پلچکونو ترمیم.

۷- د ساهیبر او هم د تګاب د لاري په اوږدو کي د ډیرو د ښوئیدو له سببه د لاري بندش او هغه بیا خلاصیدل.

۸- د ګردیز د لویي لاري بندیدل او بیا خلاصیدل د بند تیري په برخه او ساحه کي.

۹- د ارزګان د سړك په اوږدو کي د سوزني په ساحه کي د استنادي دیوال جوړیدل.

۱۰- د پل خشتي د جامع مسجد بیارغونه

۱۱- د شهید ملا خالقداد اخند د مدرسي جوړیدل په درېیم مکروریان کي.

۱۲- د کارته پروان د مسجد شریف بیا رغونه.

۱۳- په دریم مکروریان کي د مسجد شریف جوړیدل.

۱٤- د بنایي ریاست په ساحه کي د مسجد شریف جوړیدل.

۱۵- د ترانسپورت ریاست بیا رغونه

۱٦- د ترانسپورت ریاست د مدرسي جوړیدل.

۱۷- د کابل په ښار کي د ۱۱ میدانونو چه د کوچنیانو لپاره د لوبو او ساعت تیري میدانونه دي جوړ شول.

۱۸- د کندهار چمن د لویي لاري اساسي ترمیم او دقیر کار پیل کول چي همدا اوس پري کار روان دي.

د ذکر وړ خبره ده چه پورتني ۱۸ قلمه مواد مستقیماً د دولتي بودجي په مصرف سرته رسیدلي دي او خارجي موسساتو په همدي اړه هیڅ همکاري نده کړي.

سر بیره پر پورتنیو کارونو چه د فواید عامي وزارت په مستقیم شکل تر سره کړیدي د خارجي موسساتو په همکاري هم دا لاندیني کارونه سرته رسول شویدي:

۱- د کابل ښار د البي ـ حبي د اوبو رسولو شبکه د پاملرني ـ ـ ـ په همکاري سرته رسیدلي ده.

۲- د کابل ښار د خیرخانې، وزیر اباد، اېشاورو، مکروریانو، تهیه مسکن د اوبو د رسولو پروژو د سیستم بیا رغونه د سولیدارتي موسسي په همکاري

۳- د علاو الدین د اوبو رسولو پروژه د پاملرني موسسي په همکاري.

٤- د لوګر د سیند د مسیر د اوبو رسولو شبکه چه د هیئات او اکمفاد د موسسو په مرسته تر کار لاندي ده.

۵- د مکروریانو داسفالتي موادو لپاره د تصفیه خاني سیستم بیا جوړښت د سولیدارتي موسسي په مرسته.

مهاجرین افغاني مقیم ...

در ترکیب این هیأت که اخیراً وارد کابل گردیده اند، محترم مولوي بشیر احمد استاد پوهنتون، امام محمد بن سعود در ریاض، محترم مولوي عبدالعلي استاد در وزارت شؤون اسلامي و اوقاف عربستان سعودي، محترم مولوي محمود مدیر مدرسه قیومیه و محترم مولوي رشید احمد ناظم مدرسه جامعة المعارف کویته شامل میباشند. در این ملاقات محترم مولوي محمد مسلم حقاني معین آن وزارت نیز حاضر بود.

کمپاین سراسري تامین ...

اطفال متذکره از مراکز صحي کلنیك شفاخانه هاي اطفال کلنیك صحي جمعیت افغاني سره میاشت درین کمپاین سراسري وقایه و تداوي گردیده است. کمپاین متذکره از طرف وزارت صحت عامه به همکاري ساروالي کابل، ریاست عمومي انکشاف دهات جمعیت عالي افغاني سره میاشت به کمك مالي و تخنیکي اداره یونیسف و اداره سازمان صحي جهان در کابل وعده، از مؤسسات غیر حکومتي به مدت پنج روز در سراسر کشور صورت گرفت.

پروگرام متذکره بعد از ختم کمپاین نیز در تمام مراکز صحي و کلینیك ها جهت وقایه و تداوي امراض قي و اسهال اطفال ادامه دارد که مادران اطفال میتوانند ازین پروگرام در اینده نیز استفاده نمایند.

د شریعت تبصره

غربیان باید پرینږدي چي د یموکراسي !! ددوي په منځ کي ووژلي شي

دیموکراسي، د بشر له حقوقو څخه دفاع او د ښځو د حقوقو درناوي، هغه تش په نامه شعارونه ؤ چي د ډیري مودي لپاره غربي هیوادونو د ځان ویاړ ګڼل او نور نړیوال خصوصاً اسلامي هیوادونه به یې د پورتنیو مواصفاتو په نه درلودلو تورن او محکومول خو ګورو کله چي د غربي نظامونو د ګټو خبره را منځته شي او یا د دیموکراسي په ریښتیني تطبیق کي د هغوي پاښت ته تاوان متوجه شي نو بیا نه دیموکراسي وي او نه هم د چا حقوق. په الجزایر، ترکیي، چیچنیا، کوسووا او ځیني نورو هیوادونو کي ښکاره او په اثبات ورسیده چي دیموکراسي او د خلکو غوښتني صرف یو تش په نامه غربي شعار دهغوموږو هیوادونو د خلکو د غوښتنو پر خلاف ټولو نړیوالو ولیده چي څنګه د دموکراسي په اصطلاح ساتونکو نظامي پوځونو دغه خلك وټکول د هغوي مشران یې بندیان او سیاسي ډلي یې منحل اعلان کړي خو په ځواب کي یې بوه ستر دموکرات هیواد !! هم هیڅ ونه ویل. همدارنګه د بشر د حقوقو په ډګر کي هم کوم ظلمونه چي د ظالمو هیوادونو یرغلګرو پوځونو د فلسطین، کشمیر، چیچنیا، بوسنیا او ځیني نورو ملکونو پر بیګناهو ولسونو باندي وکړل هغه ته هم ټولو نړیوالو په زړه زړه کتل خو هیچا یې هم پوښتنه ونه کړه او بیا کله چي په فرانسي او ترکیه کي په اسلامي حجاب بندیز ولګول شو او په هغو هیوادونو کي با حجابه ښځي له دفترونو او مکتبونو څخه وشړل شوي یا په ازبکستان کي د حجاب لرونکي ښځي لپاره سزا وټاکل شوه بیا هم هیچا هیڅ ونه ویل، نه دموکراسي او نه د ښځو او یا د بشر حقوقو ته کوم پام وشو، چي دا پیښي ټولي او ټولي غربي دموکراسي تر سوال لاندي راولي او مدافعین یې دوه مخیزي ثابتوي.

پر پورتنیو شواهدو بر سیره د روان کال د جولاي دمیاشتي په پنځلسمه نیټه د پاکستان د جنګ مشهوري ورځپاڼي خبر ورکړي چي په جرمني کي د فرشته لودین په نامه یوه افغانه نجلي د اسلامي حجاب د مراعاتولو په ګناه د معلمي له دندي څخه بي برخي شوي‌ده چي دا ډیره د حیرانتیا او افسوس خبره ده باید وپوښتل شي چي اوس چیرته دي هغه په اصطلاح د ښځو د حقوقو مدافعین؟ د افغانستان د اسلامي امارت پر خلاف خو په مختلفو بهانو ښه توړونه لګولي شي او د ښځو د حقوقو د نه مراعات په تور خو بیا رنګارنګ تهدیدونه هم اعلانولي شي اوس هغوي چیرته دي او ولي چوپ دي؟ ولي د ښځي له حقوقو څخه دفاع نه کوي؟ او ولي یې د بشر د غوښتنو او دموکراسي نه د درناوي ادعا وي هیري شوي؟ هلته چي یوه مسلمانه نجلي د خپلي عقیدي او ملي فرهنګ د غوښتنو په اساس د حجاب مراعات حیله وجیبه بولي نو ولي ددي دموکراتانو لخوا شړل کیږي؛ مګر مسلماني ښځي، ښځي او بشر نه دي چي غوښتنو ته یې درناوي او حقوقو ته یې پام وشي؟ د فرشته لودین په مقابله کي د جرمن چارواکو اقدام دا څرګندوي چي دموکراسي صرف د غربیانو د شیطاني د ودونو او استثماري نظامونو څخه د دفاع په لار کي له هر راز بیحیایي او سپین سترګي څخه کار اخلي او نه وایي نه د انسان د فطرت او عقیدي د غوښتنو سره سم د ازادي نظام ته، موږ په داسي حال کي چي د افغاني فرشته لودین د اسلامي او ملي احساساتو پوره ستاینه کوو ددي پر ضد د جرمني د چارواکو شوي حرکت په کلکه غندو او د هغو دا اقدام د بشر د حقوقو، د موکراسي او د ښځو د ازادي د غوښتنو پر خلاف بولو د جرمني له حکومت څخه په ټینګه غوښتنه کوو چي د بین المللي او انساني اصولو په رڼا کي د افغان مهاجرینو د عقیدي، ملي دودونو او اخلاقي موازینو کلك درناوي وکړي او په داسي اقدام لاس پوري نه کړي چي هغه د افغانانو د سپکاوي په لور خوځښت وي او په نتیجه کي هغه دوستانه علایق خراب کړي کوم چي له کلونو کلونو راهیسي د افغانانو او جرمني تر منځ ټینګ دي.

همدارنګه ټولو نړیوالو دموکراسي پلوو او د ښځو د حقوقو مدافعو ټولنو ته هم په کار ده چي په دي هکله ځانونه غیر مسؤل او ناګاره ونه ګڼي او هرو مرو د هغو اصولو د دفاع لپاره راولاړ شي کوم چي د دوي مشرانو یې د ټینګښت لپاره هلي ځلي کړي او قرباني یې ورکړي دي، دا لازمه ده چي د دموکراسي مدافعین پرینږدي تر څو د دوي په منځ کي دموکراسي ووژلي شي که نه بیا به د دوي ناري او شعارونه بواځي پر ځان پوري ملندي وهل وي او بس.

SHARIAT WEEKLY
Published by:
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press

یادونه

ښایي ستاسو ایمان به اجازه ورنکړي چي دا ډول سپیڅلي پاڼي په ناوړو ځایونو کښي وغورځوي.

د ګڼون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150